رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغې پېغلې نه هم ډېر حياناک و چې په خپل کور کې په پرده کې وي، نو کله به يې چې داسې يو څه وليدل چې کرکه به يې ترې کوله، نو مورِ به يې (اغيزه) د هغه په مخ کې پېژندله

له أبو سعيد الخدری - رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغې پېغلې نه هم ډېر حياناک و چې په خپل کور کې په پرده کې وي، نو کله به يې چې داسې يو څه وليدل چې کرکه به يې ترې کوله، نو مورِ به يې (اغيزه) د هغه په مخ کې پېژندله.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

ابو سعيد الخدري رضي الله عنه خبر ورکوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغې پېغلې نجلۍ په پرتله ډېر حيا کوونکی و چې واده شوي نه وي او د سړيو سره يې ژوند نه وي کړی، بلکې په خپل کور کې په پرده کې ناسته وي، د هغه د زياتې حيا له امله به يې چې کله داسې يو څه وليدل چې کرکه به يې ترې کوله نو رنګ به يې تغير شو او خبرې به يې نه کولې، بلکې صحابه کرامو به له هغه شي نه کرکه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په مخ کې پېژندله.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3153